# MUSICALITY IN THE POETRY OF GHAZI SIAL

# د غازي سیال په کلام کښې موسیقیت

Tariq Muhmood *

Dr.Noor Muhammad (Danish Bettani) **

**Abstract:**

It is said that music is the food of soul. Likewise the essence of poetry if music in a word, that poetry will be timeless which is brimful of music. Ghazi Sial who hails from Bannu is one of the greatest names in Pashto poetry. Music reigns supreme in his poetry, Efforts have been made in this research paper to highlight the musical quality and the various devices which have been made his poetry musical.

**Keywords:** Music, food of soul, music devices, poetry

هرکله چې د غازي سیال نوم اورېده شي نو د اورېدو سره ئې سمه د ذهن پرده او د زړۀ سیمه سندریزه شي ولې چې غازي سیال د سندرې بابا دے نو دا څنګه کېدې شي چې د سندرې د بابا پۀ کلام کښې موسیقیت به هم د لټون محتاج وي ـ خو اول راځو چې د موسیقیت اصطلاح وپېژندو ـ چونکه موسیقیت د موسیقۍ نه دے او موسیقۍ ته غنایت هم وئیلې شي ـ نو ځکه ځنې پوهان د موسیقیت پۀ ځاے د غنایت ټکے هم استعمالوي لکه ښاغلے ډاکټر نصیب الله سیماب په خپل کتاب " د کره کتنې اصطلاحات " کښې لیکي چې :

" غنائیت پۀ اصل کښې د شاعرۍ لپاره استعمالېږي ، پۀ لغت کښې غنا لذت او خوند ته وائي ـ اورېدونکي ئې پر معنا نۀ وي پر خوند ئې وي ، پښتانۀ وائي د زړدکي پۀ خوند نۀ یم پر خرپ ئې یم ، پخوا چې پۀ یونان کښې به کومې ډرامې پۀ نظم کښې لیکل کېدې هغه ته به غنائي ډرامې وئیل کېدې پۀ شاعرۍ کښې غنائیت هغه ته وئیل کېږي چې پۀ هغه کښې د داخلي جذبې او احساساتو لکه عشق ، محبت

* Lecturer GDC SK Bala Bannu Pakhtunkhwa Pakistan.

** Assistant Professor Pashto Academy UOP.

، وصل ، بېلتون او نور دا رنګه موضوعات وي چې له جذبې سره زياته اړه لري د

فکر سره ئې رشته مضبوطه نۀ وي ـ او بله خوبي ئې داوي چې د ساز او اواز سره پۀ هنري ( خوندوره ) توګه وئيل کېدې شي ، غنائيت پۀ شاعرۍ کښې بحر ، وزن او اهنګ راولي ـ " ۱

لکه څۀ رنګ چې ښاغلي سيماب صېب اووئيل چې غنائيت پۀ شاعرۍ کښې بحر ، وزن او اهنګ راولي ، نو هم د دې درې واړو مجموعې ته خو موسيقيت وئيل شي ـ د موسيقيت پۀ اړه ښاغلي پرفېسر جاوېد جان صېب هم پۀ خپل تاليف " ادبي وړانګې " کښې ډېر پۀ زړۀ پورې اقتباس ليکلے دے ، هغه ليکي :

" د يوۀ شاعر پۀ کلام کښې د داسې لفظونوکارول چې پۀ کومو کښې ښۀ زيات زير و بم موجود وي ، چې ښه نغمګي ولري ، او چې کله داسې رنګ ترنم خپرِ بحرونه وکارول شي نو دې ته پۀ اصطلاح کښې د کلام موسيقيت وائي ـ " ۲

دغه رنګ ښاغلے فضل مير خټک د خپل اصطلاحاتو پۀ کتاب " فضليات " کښې د موسيقيت د اصطلاح پۀ زړۀ پورې تعريف کړے دے ، هغه ليکي :موسيقيت ترنم ته وائي يا پۀ خبرو او کلام کښې د ساز هغه خوند چې د الفاظو موزونيت او د روانۍ پۀ وجه پېدا کېږي ـ او اورېدونکے ئې لکه د ساز محسوسوي ـ دا پۀ دوه قسمه دے ـ

۱ـ صوتي موسيقيت

۲ـ معنوي موسيقيت

۱ـ صوتي موسيقيت : دا د مترنم او مانوس لفظونو ، وزن ، رديف ، قافيئې او د ضمني قافيئې پۀ وجه پۀ غزل يا پۀ بل صنف کښې پېدا کېږي ـ دا خارجي موسيقيت هم يادېږي ـ

۲ـ معنوي موسيقيت : دا داخلي موسيقيت دے چې د الفاظو د معنې او د هغې د اثر نه راولاړېږي ـ کوم چې زمونږ جذبات او احساسات راوينښوي او تحريک ورکوي ـ

زياتره موسيقيت پۀ سندرو او نورو غنائي اصنافو کښې وي ، ځکه چې هغه د ساز او اواز سره وئيلو د پاره ليکلې شي ـ " ۳

فضل مير خټک صېب د خپل وړاندې کړي تعريف پۀ اخري کرښو کښې زمونږ ټول کار اسان کړو چې اوئې وئيل چې زياتره موسيقيت پۀ سندرو او نورو غنائي اضافو کښې وي ، ځکه چې هغه د ساز او اواز سره د وئيلو دپاره ليکلېږي شي ـ

زمونږ کار اسان ځکه شو چې زمونږ د قلم لاندې شاعر خو د سندرې بابا دے ـ که یو ارخ ته د هغهٔ اکثرې سندرې لکه " ژورې کرمې ته نصیب راوړې یمه " او داسې نورې د ګلناربېګم پهٔ ځان

ګړي اواز او سریلا ترنم کښې زبان زدعام دي نو بل اړخ ته الله تعالے د خپل اواز او ترنم ملکه هم ورکړې ده چې د هرې مشاعرې ښکلا ګڼلې شي ـ او دا موسیقیت د هغهٔ پهٔ خمیر کښې اغړلے شوے دے ـ دا خبره هغه د سندرې بابا یعني غازي سیال خپله هم کوي چې زما د موسیقۍ سره د ورکوټوالي نه د جنون ترحده شوق وۀ ، هغه پهٔ دعوې سره وائي چې که زۀ چرته د دیني او مذهبي کورنۍ څخه نهٔ وے نو زۀ به یو تکړا موسیقار وے ـ

د پښتو پهٔ څلورمیاشتیزه مجله " شنه زرغونه بنو " سره پهٔ یوه مرکه کښې د یو سوال پهٔ جواب کښې د زړۀ خبره څهٔ پهٔ داسې انداز کوي ـ

" زما رجحان موسیقۍ طرف ته ډېر مائل دے او وۀ ـ بلکه د جنون ترحده مې د موسیقۍ سره شوق دے او وۀ ـ هم دا وجه ده چې پهٔ موسیقۍ مې یو ضخیم کتاب هم لیکلے دے ـ خو د ځینو مذهبي خلقو د یرې نه ناچاپ پروت دے ـ د کتاب نوم " انسان او موسیقي " دے ـ پهٔ دا کتاب کښې د انسان د پېدا وښت نه ئې واخله د انسان تراخرنۍ سلګۍ پورې د انسان د موسیقۍ سره د تړون معلومات راغونډ کړي شوي دي ـ پهٔ اسلام کښې د موسیقۍ د مباح ګرزولو او پهٔ اسلام کښې د موسیقۍ د ممانعت بحث شوے دے ـ او د داؤد علیه السلام نه ئې واخله تر د امیر خسرو ، نظام الدین اولیا ، تان سېن ، بیجو باوره ، وشنوباټ کنډې ، شاه عبدالعزیز محدث دهلوي او امام غزالي وغېره وغېره د موسیقۍ پهٔ حواله پهٔ زړۀ پورې بحث شوے دے ـ موسیقي چې زما پهٔ رګ رګ کښې شامله ده ـ د سندرې پهٔ حواله مې کتاب لیکلے دے چې اوس اوس چاپ شوے دے ، د کتاب نوم دے " هغه سندرې چې فوک نهٔ دي " پهٔ دا کتاب کښې پهٔ فوک سندرې تحقیق شوے دے ـ " ۴

اوس سوال دا دے چې یو داسې شاعر چې د سندرې بابا یادېږي د هغهٔ پهٔ کلام کښې د موسیقیت کمے څنګه محسوسېدے شي ـ زما خو خپل خیال دا دے چې نوموړے غازي سیال د هرڅهٔ نه اول فطري او پېدائشي موسیقار دے او بیا شاعر دے ـ زۀ پهٔ دعوي سره

وئیلے شم چې غازي سیال د موسیقۍ سره مینه شاعرۍ د پاره یا د شاعرۍ پۀ وجه نۀ ده کړې بلکه شاعري ئې پۀ دې غرض کړې ده چې د موسیقۍ تږے احساس ئې تسکین او مومي ـ ثبوت ئې دا دے چې که څوک د غازي سیال سندرې پۀ لیکلي صورت کښې هم ګوري نو بې اختیاره ترېنه ترنم شروع شي ـ ګني نو پۀ لاندې ورکړې شویو سندرو تجربه کېدې شي ـ

" شـــــــــــــړنګ دے د پېنزېبــــــــــــــو
وۍ وۍ مـــــــــــــــــــــــــازدیګرے دے
جینکــــــــــۍ اوبـــــو لـــــــه ځینـــــه وۍ وۍ " ۵
" تــور مــې بنګــړي ، ســره لوپټــه ، شــین مــې مــنګے دے
الله ـــــــ الله مـــــــــــــــــــــــــازدیګرے دے " ۶

ښاغلے غازي سیال د خپل سندریز فطرت له برکته په خپل ځان کښې د ننه د کائناتو نمونه مظهر ښکاري،د دوئي په شاعرۍ کښې داسې سندرې هم شته چې ځان ته پۀ خپله ګل وائي سپرلي وائي خوشبو وائي نغمه وائي او ساز وائي لکه :

" ګــل یمــه ، ســپرلے یمــه ، خوشــبو یمــه خورېږمـــه
زۀ یــوه نغمــه یــم چــې د ژونــد پــۀ ســاز غږېږمــه " ۷

دا خو واضحه ده چې د غازي سیال ډېرې سندې په فلمي دنیا کښې هم زمزمه شوې دي او خورې ورې دي ، فلمونو ته ئې ډېرې او په زړه پورې سندرې لیکلې دي ـ پۀ فلم مجرم کښې چې کومه سندره د ګلناربېګم پۀ اواز کښې وئیلې شوې ده که پۀ توجه سره واورېدله شي نو اوبه ویني چې موسیقیت ترېنه ځاځي :

زۀ د دنګـــو غرونـــو د ســـرونو ســـېلنۍ یمـــه
مســـته لېـــونۍ یمـــه مســـته لېـــونۍ یمـــه " ۸

د غازي سیال ځنې ځنې سندرې پۀ خپل ذات کښې د ننه دومره موسیقیت لري چې که څوک اوغواړي چې تحت اللفظ ئې اووائي نو زما خیال دے چې نۀ به ئې اووئیلې شي ګني څوک دې دا سندره تحت اللفظ اووائي :

" وئیــل دي چــې درځـمــه خــو دریــادې کــه وعــدې شــوې
اشـــــــنا بېـــــــري پخـــــــې شـــــــوې " ۹

یا دا پۀ زړۀ پورې سندره:

" وړې وړې ګرګرې یوه یوه ټولومه
د مینې ځو خبرې جانان سره کومه " ۱۰

او پۀ دا سندره کښې خو ئې موسیقیت اوربېدونکي هم د ځان سره سم ځنګوي:

" چې پۀ سینه دې ځنګوم پۀ مینه مینه وه د غاړې
غاړې لونګینه وه د غاړې " ۱۱

هر هغه شاعر چې موسیقیت ئې پۀ سرشت کښې شامل وي بې اختیاره ، بې ارادې او پۀ لاشعوري توګه ترېنه پۀ شاعرۍ کښې د موسیقۍ د الاتو نومونه ارو مرو راځي ـ نو دغه رنګ شپېلۍ چې بانسرۍ ورته هم وئیل شي د موسیقۍ داسې هر دلعزیزه اله ده چې پۀ هر دور کښې ئې د دوو مئینانو ترمینځه خپل خدمات ترسره کړي دي پۀ خپل نشه نشه اواز ئې مئینان نشه کړي دي او د یو بل خوا ته ئې رسولي دي ـ زمونږ غازي سیال هم لکه د مئینانو پۀ زړونو کښې چې ناست وي پۀ مئینانو مئینه اله شپېلۍ " بانسرۍ " د غرۀ پۀ لمن کښې شپونکي ته ورکوي او پۀ خپله محبوبا ورته پۀ مینه مینه څۀ داسې د موسیقیت پۀ چپو کښې سندره وائي چې اوربېدونکي ټول د غرۀ لمنې ته اورسوي:

" د غرۀ لمنه کښې شپونکیه شپېلۍ غږوه
زما ساده ساده لالیه شپېلۍ غږوه " ۱۲

یا دا سندره چې د کرخت نه کرخت لوستونکي نه هم د ترنم تقاضه کوي:

" زمـا زړګـے چـې پـرې ډډه دې خـومره ښـکلے دے
دغـــــه زمـــــا د اشـــــنا کلـــــے دے
خوا کښې ئې شنۀ فصلونه زانګي ما لیدلے دے
دغـــــه زمـــــا د اشـــــنا کلـــــے دے " ۱۳

هسې خو هره سندره چې ليکله شي ترنم او موسيقۍ د پاره ليکله شي ولې چې د موسيقۍ نه بغېر پۀ سندره کښې د سندرې هومره خوند نۀ پېدا کېږي ـ خو د اختصار ترمخه د غازي سيال يو څو سندرې هم د نمونې پۀ توګه وړاندې کول غواړم :

" پۀ سپينو لېچو کښې مې بيا د بنګړو شرنګ دے
جانان مې غنم رنګ دے
زما خوئيندو پېغلوکو " ۱۴
" زړونه د مئينو مې نيولي پۀ منګل کښې
ګل مې په وربل کښې ۱۵
" لاس راکه خانيه پۀ نشه کښې د ځوانۍ يمه
مسته لېونۍ يمه ، مسته لېونۍ يمه " ۱۶

او دا د موسيقيت يوه غره نمونه هم د کتو ده ، زما خو يقين دے چې دا سندره چاته هم دا اجازت نۀ ورکوي چې څوک ئې د موسيقۍ د يو خاص وزن ، بحر او اهنګ نه بغېر اووائي :

" غواړې مې مروند د بنګړو شړنګ شړنګ شړنګ
اوړيه را اوړيه پۀ ځنګ ځنګ ځنګ
ټوله ټاله ستا يمه کله د بل چا يمه
څومره کوي خوند د سترګو جنګ جنګ جنګ
اوړيه را اوړيه پۀ ځنګ ځنګ ځنګ " ۱۷

د اکثرو مترنم شاعرانو يو بله شريکه او ځانګړې خوبي د لنډ بحر غزل ليکل وي چې پۀ ځانګړې مهارت سره پۀ کښې موسيقيت ته ځائے ورکوي ـ او دا خوبي زمونږ پۀ غازي سيال کښې هم پۀ اعلے پېمانه پائي ، لکه دا د لنډ بحريو غزل ئې :

" خفا ګل خفا کلۍ ده ، نن خفا چې لېونۍ ده
ځان د سيالو سره سيال که ، زمانه ستا د سيالۍ ده " ۱۸
لېونۍ لېونے کېږم ، پۀ راستۍ لېونے کېږم
دخندا نه دې خلۀ ډکه ، ګل غوټۍ لېونے کېږم " ۱۹

يا د لنډ بحر دا شعرونه :

" پۀ مجمر کښې سپېلنے يم ، لوګے کېږمه لوګے يم

زۀ د ژوند سره پۀ ضد يم ، دا مې ضد دے چې ژوندے يم " ۲۰
" لا مې سم كتلي درته نۀ وۀ چې تا پۀ اننګو لاسونه اونيول
وې چې سياله مه درومه مابنام شولو
غلي مې ئې ورو لاسونه اونيول " ۲۱

د لنډ نه لنډ بحر دا شعرونه ئې هم د كتو دي :

"تۀ مغرور زۀ مجبور
زۀ دې ورور تۀ تربور" ۲۲

د سندرې بابا غازي سيال د سندرې روح اروابنادې ګلناربېګم پۀ عقيدت كښې چې كوم نظم ليكلے د هغۀ نظم د يو بند پۀ اورېدو سره د غازي سيال پۀ موسيقيت مهر تصديق ثبت كېږي :

" چې همه " سر " همه " سرګم " وه
همه نغمه هم ترنم وه
يو عجب راز ګلنار بېګم وه
پۀ چپه خلۀ د ځان سره ځنګه ګويا لاړه
له دې دنيا لاړه
ګلنار بېګم " ۲۳

" مړمې كه ژوندے مې كه
ژوند لره مرګے مې كه " ۲۴

د موسيقيت دا شوخي ئې يوازې پۀ غزلو كښې نا پۀ نظمونو كښې هم برقراره ساتلې ده ، د غازي سيال د نظمونو يوه لويه ذخيره پۀ " ژوند او ښكلا " كښې پۀ نظر راځي ـ د ژوند او ښكلا پۀ يو نظم " سپرلے " كښې ځۀ داسې زمزمه شوے دے :

" هر خوا ته چې ګورم ښكلي ښكلي منظرونه دي
دلته هم ګلونه دي ، هلته هم ګلونه دي " ۲۵

هم پۀ دې كتاب كښې پۀ نظم " كاروان د ژوندانۀ " كښې ځۀ پۀ دې ډول ګويا دے :

" كاروان د ژوندانۀ به همېشه داسې روان وي
ترڅو چې دا دنيا وي تر څو چې دا نظام وي " ۲۶

هسې خو د غازي سیال ټوله شاعري د موسیقیت اعلې ثبوتونه وړاندې کوي ، ولې د موسیقیت کوم شدت ئې چې پۀ قامي ، ملي او وطني شاعرئ کښې پۀ غورځنګونو دے هغه ۱۹۷۳ کښې د پاکستان پۀ ماتېدو د بنګلادېش د منلو نه کوم منظوم انکار کوي هغه د موسیقیت یوه غوره نمونه ده ـ د سر شعر ئې داسې دے :

" نۀ منم نۀ منم بنګلادېش نۀ منم

چونکه د موصوف زیاتره قومي ، ملي او وطني شاعري د هغوئي پۀ کتاب " د ازادئ سحر " کښې ده نو پۀ اخر کښې راګرزو دې اړخ ته ـ هغوئي چې د ازادئ د قافلې پۀ نظم ، ضبط او بریالي توب پۀ خپل کلام کښې بیانوي نو د موسیقئ پۀ فوجي ردم کښې بیانوي لکه :

" درومي ، درومي ، درومي قافله زمونږ روانه ده
مخکښې مخکښې زغلي مخکښې مخکښې د هرچانه ده " ۲۸

هم پۀ دې کتاب کښې یوه د وطن نغمه څۀ داسې زمزمه کوي:

" دا ښکلے ګلشن زما دا وطن زما وطن
دا ښاد او اباد وطن دا چمن زما وطن " ۲۹

یوه بله سندره څۀ داسې وړاندې کوي :

" ځئ ملګرو ځئ چې ځان د سیالو سره سیال کړو
ځئ چې ورښکاره دنیا ته عزم و استقلال کړو" ۳۰

د وطن سره مینه خو دې څوک د غازي سیال نه زده کړي :

" ښکلي دي زما د وطن دشتې دي که سیندونه دي
خدائے د ازادئ چې رابخښلي نعمتونه دي " ۳۱

دا او داسې نور بلها ډېر نظمونه ،غزلې او سندرې چې د پښتو بېلا بېلو سندرغاړو په خپلو اوازونو کښې د موسیقئ غېږې ته سپارلی دي ، دغازي سیال په کلام کښې شتون لري۔

د بره بشپړه بحث نه په دا نتیجه رسو چې د غازي سیال شاعري او موسیقیت لازم او ملزوم دي۔د دوئي په کلام کښې د هغو شعرونو لټون ډېر ګران

دے په کوم کښې چې موسيقيت څه قدرې کم دے۔ مطلب دا چې خوا اوشا ټول کلام ئې د موسيقيت نه ډک او مترنم دے۔نو دلته دا خبره په دې ځاے ثبوت ته رسي چې د غازي سيال په کلام کښې موسيقيت نۀ راوستل په خپله د غازي سيال د وس خبره هم نۀ وه۔ ولې چې موسيقيت د دوئي د فطرت نه جدا څيز نۀ ؤ او نۀ کېدلے شو۔ او په حقيقت کښې دې ته په اصل کښې شعر او شاعري وئيل شي۔ غوارم چې راتلونکي شاعران خپله شاعري د موسيقيت په خوږو شېرينه او رنګينه جوړولو د پاره د غازي سيال د کلام مطالعه وکړي۔

**References**

1.Simab Naseeb Ullah doctor, da kara katane estelahat,2013,Qallat press Quetta,page 148.
2. Javed jan Prof,Adabi warangy,March 2016,Faheem printing press Choak bazar Bannu,page,144,144.
3. Khattak Fazalmeer,Fazlayat,1999,pages, 418,419.
4. Sial Ghazi,Salor miashteeza Shana Zarghona,July to October 2012,pagees, 97,98.
5. Sial Ghazi, Zama sandary sta da para,2001,Millat printers Lahore, page ,29.
6.Do, page, 123.
7. Do, page, 138.
8. Do, page, 146.
9. Do, page, 152.
10. Do, page, 181.
11. Do, page, 204.
12. Do, page, 161.
13. Do, page, 162.
14. Do, page, 208.
15. Do, page, 209 .
16. Do, page, 217.
17. Do, page, 279.
18. Do, page,302.
19. Do, page, 294.
20. Do, page, 294.
21. Sial Ghazi, Rangoona baharoona, 2007, Danish Khaparandooya, page, 14
22. Do, page, 17.
23. Do, page, 22.
24. Do, page, 32.
25. Do, page,147.
26.Sial Ghazi, Rangoona Baharoona,2010,Zarpanra printers Pekhawar, page,14
27. Do, page, 66.
28. Do, page, 104.
29. Sial Ghazi , Da Azady Sahar, dawyam Chap, August 2007, page,50.
30. Do, page,29.
31. Do, page, 58.